# دبزگرگور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوايي لاندی

لاس و پښـې چـاودي مـخ سـپېره شـونډي وچـې يـو کـوچنی پېټـی غـنم يـې پـر شـا را اړولـي وو او پـه سـتمي د کـور پـر لـوري را روان دی، بشـپړي نهـه مياشـتي يـې خـواري کنبـلې ده او منتونـه يـې وړي دي، تـر څـو چـې پـه اخـري دوبـې (۹۰) منـه غـنم لـه بزګـرۍ نـه ورغـلـل پـه دې کـې يـې (۹) منـه غـنم ملا صـاحب تـه زکـات ورکـړل، (۳۰) منـه يـې پـش تـه ورکـړل او څلـور منـه هـم (رقبـه) تربـنـه يـوړل، (۲۰) منـه يـې د هغـو دوو زرو افغـانيو پـه سـود کـې ورکـړل کـومې چـې د ده د پـلار د مـرګ د خيـرات او اسـقاط لپـاره د يـوه سـودخور نـه پـه شـپږته منـه ګټـه راوړي وې، پـه کـور کـې د ده ماينـه او مـور او څلـور ماشـومان د ده لاره څـاري او ماشـومان يـې لـه کـوره راوتلـي او د هغـې لاري خواتـه پـه ډېـره اسـره ګـوري، پـر کومـه لاره چـې د دوی پـلار اوس کورتـه راځـي او د رشـې غـنم راوړي، د ده مـور او مـاينې د سږ کـال د محصـولاتو پـه شـاوخوا کـې خـورا ښـې خـوږې کيسـې کولې او هيلـه يـې وه چـې ګـونـدي سږ بـه يـو څـو ورځـې پـه نـس مـاړه سي، پـه دې وخـت کـې ماشـومان يـو پـه بـل پسـې د کـور لـوري تـه راځغلي او ناري وهي چې بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزګـر هـم پېټـی پـه شا پـه کـور راننـووت او پېټـی يـې د خـوني لـه مخـه کښېښـود، مـور او مـاينې پـه الوتـو بنـو تربـنـه د رشـې احـوال پوښـتـه چـې پـه دې وخـت کـې يـو سـړی تـرازو او کـانې پـه لاس پـه انګـړ راکښېـووت او پـه کلـک ږغ يـې ورتـه وويـل چـې: "تـا خـو ويـل پـر راشـه بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ويل يې چي دا څلور پنځه مياشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لرې ژر شه غنم راوتله، موريې چيغي کړې چي دا څو دانې چي ته يوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وويل خاوري!"

سم د لاسه يې اندی راواړاوه او ټوله غنم يې ځيني وتلل او په پای کي يې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وويل چي: "دو نه منه خو لا نور هم درباندي پاته سول هغه به څرنګه سي."

خوار بزګر په داسي حال کي چي له څواشينی نه يې پر ستوني درد وو، تش جيوال و ځانده او يوې خوا ته يې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي يې وويل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به يوه لپه نيني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او يو څه شفتل يې په پلو کي راوړه او له مالګي سره يې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره يې په ژړا پيل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډيانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له يوې خوا د ده ګاونډيانو هم دغه راز د ناداری تکليف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي يو دوې کاسې اوړه ترينه پور کړي وو هغه يې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار يې بايللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر يې وکړ، له ځانه سره يې فيصله وکړه چي د يوي غويي چي د ده وروستنی او يواځنی دا رايي وه د هغه په مرسته يې د خلکو بزګري کوله د عيال دقوت او لايموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي يې د مور او مايني رضايت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چي د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لځي پښې پړانګي پړانګي کالي بلي منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کي شپږ مياشتي د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځي شپږ افغانۍ ورکولې، چي درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پای کي د ده ټوله ګټه (۴۲۸) افغانۍ سوه، چي په (۳۰۰) افغانۍ يې څانته پنې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دی شپږ مياشتي په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او ښه زړه د کور لوري ته راروان سو چي د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغي کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چي مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په منې لا مړه سوي دي، يو ګړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چي: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مي ورکړي دي چي قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کېږي او هم مي ستا پر ځای په دې شپږو مياشتو کي (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړې دی، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دي پر موږ راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چي (۲۴۲) افغانۍ کېږي راکړه" ځکه چي ده دا ټول رقم پر يو ځای نه شو تاديه کولای نو محکمې ته يې کښې کړ او بندي شو چي بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست[۱۰]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

---

[۱۰] اوسني ليکوال لومړی ټوک

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**